استاد طلا باز « حبیب زی »

د نشر نیټه : 18 فبروری 2017 م

غزل

یاغی څپی په ژوند دسمندر له غیږی وځی
له سترګونه خندا په پټ نظرله غیږی وځی
د دم به څه تاثیریی چی زاهد سره هجری نه
د پیغلو خندااګانو کی ساغرله غیږی وځی
غمونه به می شپه کی سپینوستوروسره وایم
چی کډه مي له کلي مازیګرله غیږی وځی
ویالی له وینو ډکی اوشورونه په کی مړه دی
منګي سره چی پیغله د ګودرله غیږی وځی
د سترګوجام کی مینه دوفا په تمه مړه ده
یویو په تلی لاره کوزاوبرله غیږی وځی
ساقی سره په شپومی د جامونوپه نڅا کی
خمارپه نشه اوړی چی اخترله غیږی وځی
داڅنګه تړړمی ده چی سپیدی په کی ډوبیږی
کابله له لمنی دی خیبرله غیږی وځی

***

« حبیب زی »
ویسبادن – جنوری ۱۷

www.said-afghani.org – بازګشت به صفحه اصلی